# د ډرائیور مرګ




شیخ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د ډرائیور مرګ

**دُعائے عطّار**: یاالله پاکه! څوك چې دا رِساله "دَ ډرائیور مرګ" اولوَلي یا ئې وَاورِي هغه ته د ایمان و سلامتیٔ سره په مدینه منوّره کښې د **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دیدار کولو کولو کښې شهادت او **جَنَّتُ الْبَقِیع** کښې خخیدل نصیب کړې. اٰمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## کمالي فرښته

زمونږه د خوږ نبي، مَدَني تاجدار **مُحَمَّدِ** مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: "**بیشکه اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ یوه فرښته زما په قبر مقرره کړې ده او هغې ته ئې د ټول مخلوق د آوازونو اوریدلو طاقت ورکړے دے، پس د قیامته پورې چې څوك په ما باندې درود شریف لوَلي نو هغه ما ته د هغه او د هغه د پلار نوم پیش کوي. وائي، فلاني بِن فلاني په تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود شریف لوستلے دے." (مجمعُ الزَّوائِد ج ۱۰ ص ۲۵۱ حدیث ۱۷۲۹۱)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**سُبْحٰنَ اللّٰهِ** عَزَّوَجَلَّ! دُرُود شریف لوستونکے خومره بختور دے چې د هغه نوم د پلار د نوم سره د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې وړاندې کیږي. دلته دا **ټکے** هم ډیر زیات اِیمان تازه کوونکے دے چې په قبرِ مُنوَّر باندې مقرري فرښتے ته دومره زیات د

اوريدلو **طاقت** ورکړے شوے دے چې هغه د دُنيا په ګوټ ګوټ کښې په يو وخت کښې دننه دننه د درود شريف لوستونکو لکونو مسلمانانو ډير په قلاره آواز هُم اوري او هغې ته **عِلم غيب** هُم ورکړے شوے دے چې هغه د دُرُود شريف لوستونکو نومونه بلکه د هغوئي د پلارانو نومونه هم پيژني، نو چې د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دربار د خِدمت ګاري فرښتے د **عِلمِ غيب** دا حال دے نو د مدينے د تاجدار، د دواړو جهانو د سردار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اختياراتو او **عِلمِ غيب** به څومره اوچت شان وي او هغوئي به ولې خپل غُلامان نه پيژني او ولې به د هغوئي فرياد نه اوري او ولې به **بِاِذْنِ الله** (يعنى د الله په اجازت) د هغوئي امداد نه کوي!

ميں قُرباں اِس ادائے دستگیری پر مِرے آقا
مدد کو آگئے جب بھی پکارا یارسولَ الله

زه قُربان شم ستاسو د مدد په دې ادا خوږه آقا
مدد مو اوکړو زما چې کله ما ياد کړئ يا رَسُولَ الله

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## طعام خوړل هم عِبادت دے

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** طعام د الله عَزَّوَجَلَّ ډير ښکلے نعمت دے، په دې کښې زمونږ د پاره قِسم قِسم خوندونه هم ايښودے شوي دي. ښو ښو نِيَّتونو سره د شريعت او سُنَّت مطابق حلال طعام خوړل د ثواب کار هُم دے، **مُفَسِّرِ قرآن، حَكِيمُ الأُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ''طعام خوړل هم د **الله** عَزَّوَجَلَّ عِبادت دے د مؤمِن د پاره.'' نور فرمائي، ''کورئ **نِکاح** کول د انبياءِ کرامو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام سُنَّت دي

خو حضرتِ سيِّدُنا **يَحيٰي** عَلَيهِ السَّلام او حضرتِ سَيِّدُنا **عِيسىٰ** رُوحُ الله عَلَيهِ السَّلام نكاح نه وه كړي خو طعام خوړل هغه سُنَّت دي چې د حضرتِ سيِّدُنا **آدم صَفِيُّ الله** عَلَيهِ السَّلام نه د حضرتِ سيِّدُنا **مُحَمَّدٌ رَّسُولُ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پورې ټولو انبياء عَلَيهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ضرور خوړلے دے. څوك چې د **لوږې هړتال** اوكړي او د لوږې ځان مړ كړي هغه په حرام مرګ مړ شو. (تفسيرِ نعيمى ج٨ ص٥١) د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دے: "**خوړونكي والا شُكر ګزاره داسې دے لكه صبر كوونكے روژه دار.**" (ترمِذى شريف ج٤ ص٢١٩ حديث٢٤٩٤)

## د حلالې نوړئ فضيلت

كه مونږه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنّت مطابق طعام خوړو نو په دې كښې زمونږ د پاره ډير زيات بَرَكتونه دي. حضرتِ سيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه د اِحياءُ الْعُلُوم په دويم جِلد كښې د يو بُزُرګ رَحمَةُ اللهِ عَلَيه قول نقل كوي: **مسلمان چې كله د حلال طعام وړومبئ نوړئ اوخوري نو د هغه تير شوي ګناهونه معاف كړے شي.** او څوك چې د حلالو ګټلو د پاره د رُسوائې مقام ته ځي نو د هغه ګناهونه د وَنو د پاڼړو په شان رژيږي. (اِحياءُ عُلوم الدِّين، ج٦، ص١١٦)

## د طعام خوړلو نِيَّت ښنګه كول پكار دي

**د طعام** خوړلو په وخت كښې لوَړه سُنّت ده [يعني د طعام خوړلو يو سُنّت دا دے چې بنده اوړے وي] د طعام خوړلو دا نِيَّت اوكړئ چې **د اللّٰه رَبُّ العِزَّت** عَزَّوَجَلَّ **د عِبادت د پاره قُوَّت** [يعني طاقت] **حاصلولو د پاره ئې خورم** چې د طعام خوړلو مقصد صرف مزه اخستل نه وي. حضرتِ سيِّدُنا اِبراهِيم بِن شَيبان رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: "ما د اتياؤ كالو نه يو څيز هم صِرف د نفس د مزے د پاره نه دے خوړلے." (اِحياءُ الْعُلوم، ج٢، ص٥) او د كم طعام خوړلو نِيَّت هم

اوکړئ نو هله به د عِبادت د پاره د قُوَّت حاصلولو د رِښتياؤ نِيَّت وي ځکه چې په مړه خيټه خوراك کولو سره په عِبادت کښې رُکاوټ راځي! کم خوراك کول د صِحّت د پاره فائِده مند دي او د داسې کس ډاکټر ته ډير کم ضرورت پيښيږي.

## طعام ځومره خوړل پکار دے

د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارَك دے: اِنسان د خپلې خيټې نه زيات بَد لوښے نه ډکوي، د انسان د پاره يو څو نوړئ کافي دي چې هغه د هغه ملا نيغه اوساتي، که داسې اُو نکړے شي نو دريمه حِصّه دِ د خوراك د پاره، دريمه حِصّه دِ د اوبو د پاره او دريمه حِصّه دِ د ساه د پاره وي." (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج٤ ص٤٨، حديث٣٣٤٩)

## د نِيَّت اَهَمِّيَّت

د بُخاري شريف د ټولو نه اولنے حديثِ پاك دے، اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ يعني د اعمالو دار و مدار په نِيَّتونو دے. (صحيح البُخاری ج١، ص٥، حديث١) کوم عمل چې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رضا د پاره اوکړے شي د هغې ثواب حاصليږي، د رِياکارئ يعني که د ښودَني د پاره اوکړے شي نو هُم هغه عمل د ګناه باعِث جوړ شي او که هيڅ نِيَّت هم نه وي نو نه به ثواب کيږي او نه ګناه، هله چې هغه عمل پخپله مُباح (يعني جائِز) وي، مَثَلًا چا څه حلال څيز لکه آئِس کريم يا مټهائي يا ډوډئ اوخوړله او په هغې کښې ئې هيڅ نِيَّت هم اُونکړو نو نه به ئې ثواب کيږي او نه ګناه. البتّه د قيامت په ورځ به ئې حِساب کيږي ځنګه چې د سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد دے: حَلَالُهَا حِسَابٌ وَّ حَرَامُهَا عَذَابٌ يعني د هغې د حلالو حِساب دے او په حرامو عذاب [دے]. (فردوس بماثور الخطاب ج٥ ص٢٨٣، حديث٨١٩٢)

## رانجه دِ ولې پورې کړې وو

د رَسُولِ پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دے: بيشكه د قِيامَت په ورځ به د اِنسان نه د هغه د هر هر كار تر دې چې د سترګې د رانجو په باره كښې به هم تپوس كيږي. (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج١٠ ص٣١، حديث١٤٤٠٤) لِهٰذا! خير په دې كښې دے چې په خپل هر هر مُباح كار كښې ښه ښه نِيَّتونه شامِل كړے شي. چنانچه يو بُزُرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه په هر كار كښې نِيَّت كول خوښووم تر دې چې د خوراك، څښاك، اوده كيدو او بيتُ الخلا ته د داخليدو د پاره هم. (اِحياءُ الْعُلوم، ج٤، ص١٢٦) د نبيانو سردار، خوږ مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "**د مسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.**" (طبرانی مُعجَم کَبِیر ج٦ ص١٨٥ حديث٥٩٤٢) نِيَّت د زړه اِرادے ته وائي، په ژبه وئيل شرط نه دے، بلكه كه په ژبه ئې د نِيَّت الفاظ اووئيل او په زړه كښې ئې نِيَّت نه وو نو نِيَّت اُو نه شو او ثواب به هم نه كيږي. **د طعام 43 نِيَّتونه** ستاسو په خِدمت كښې وړاندې كووم په دې كښې چې كوم نِيَّتونه د حال مطابق وې او كيدے شي نو كول پكار دي. دا عرض هم كووم چې دا نِيَّتونه پوره نه دي، د نِيَّتونو عِلم لرونكے د دې په ذريعه په دې كښې نور نِيَّتونه هم شاملولے شي. چې نِيَّتونه څومره زيات وې هغه همره به ثواب هم زيات كيږي.

## د طعام 43 نِيَّتونه

﴿١،٢﴾ د طعام نه مخكښې او وروستو به اودس كووم (يعني لاسونه او د خُلې مخكښنۍ حِصّه او خُله به وينځم) ﴿٣﴾ د طعام خوړلو په ذريعه به د عِبادت ﴿٤﴾ تِلاوت ﴿٥﴾ د مور و پلار د خِدمت ﴿٦﴾ د عِلم حاصلولو ﴿٧﴾ د سُنّتو د تربِيَّت د پاره په مَدَني قافِله كښې د سفر

﴿۸﴾ د نيکۍ د دعوت علاقائي دوره کښې د شِرکت ﴿۹﴾ د آخِرت د کارونو او ﴿۱۰﴾ د ضرورت مطابق د کسبِ حلال د پاره د منډې ترړې د پاره قُوَّت [يعني طاقت] حاصلووم (دا نِيَّتونه به هله فائِده مند وي چې ځان پوره موړ نه کړي ځکه چې د ډېر خوراك کولو سره په عِبادت کښې سستي پيدا کيږي، د ګناهونو طرف ته خيال پيدا کيږي او خيټه ورسره خرابيږي) ﴿۱۱﴾ په زمکه ﴿۱۲﴾ د سُنَّتو د تابعدارۍ په نِيَّت په دسترخوان باندې ﴿۱۳﴾ (د څادر يا د کُرتے د لمَن په ذريعه به) د پردے د پاسه پرده کووم او ﴿۱۴﴾ د سُنّت مطابِق په ناسته ﴿۱۵﴾ د خوراك شروع کولو نه مخکښې به بِسْمِ الله او ﴿۱۶﴾ نورې دُعاګانې لوَلم ﴿۱۷﴾ په درې ګوتو او ﴿۱۸﴾ او وړې وړې نوړۍ ﴿۱۹﴾ او په خُله کښې به ئې صحيح ميده کووم ﴿۲۰﴾ په هره نوَړۍ به يَا وَاجِدُ وايم (يا به د هرې نوړۍ په ختميدو اَلْحَمْدُ لِلّٰه او د هرې نوړۍ په شروع کښې يَاوَاجِدُ او بِسْمِ الله وايم) ﴿۲۱﴾ د خوراك څه دانه [د ډوډۍ ټکړه] وغيره که اوغورزيده نو هغه به راپورته کووم او خورم به ئې ﴿۲۲﴾ د ډوډۍ هره نوړۍ به د اِنګولي د لوښي د پاسه ماتووم (چې د ډوډۍ ذرّے په لوښي کښې پريوځي) ﴿۲۳﴾ هډوکے او کرمه مَصَاله وغيره به صحيح خَتَم او صفا کووم [چې د خواراك يوه ذرّه هم ضائع نه شي] ﴿۲۴﴾ ځان به پوره نه مړووم ﴿۲۵﴾ په آخِره کښې به د سُنَّتو د ادا کولو په نِيَّت لوښے خَتَم ﴿۲۶﴾ درې درې ځله به ګوتې خَتَم ﴿۲۷﴾ د انګولي ککړ لوښي کښې به لږې اوبه اچووم او د هغې تول ذرّات به راصفا کووم او څښم به ئې چې د يو غُلام ازادولو حقدار جوړ شم ﴿۲۸﴾ تر څو چې دسترخوان اوچت نه کړے شي تر هغې به بے ضرورته نه پاڅم (ځکه چې دا هُم سُنّت دي) ﴿۲۹﴾ طعام نه پس به د اوَّل او آخِر دُرُود شريف سره سُنَّت دُعاګانې لوَلم ﴿۳۰﴾ [د غاښونو] خِلال به کووم.

## د يو ځائے طعام خوړلو نور نِيَّتونه

﴿۳۱﴾ که طعام ته راسره يو دسترخوان ته يو عالِم يا بُزُرګ وغيره موجود وو نو د هغوئي نه مخکښې به خوراك نه شروع کووم ﴿۳۲﴾ د مسلمانانو د نزديکت بَرَکتونه به حاصلووم ﴿۳۳﴾ د هغوئي زړه خوشحالولو د پاره به هغوئي ته پوټے، کدُو مبارك او اوبه وغيره وړاندې کووم (د چا په رکيبئ کښې په خپل لاس څه وراچول د ادب خِلاف دي، کيدے شي چې کوم څيز مونږه ور اچوو هغه وخت هغه د هغې خواهِش نه لري) ﴿۳۴﴾ هغوئي ته به د صَدَقے د ثواب ګټلو د پاره مُسکے کيږم ﴿۳۵﴾ چې څوك مُسکے اووِينم نو د هغې سُنّت دُعا به لوَلَم (څوك چې مُسکے اووِينئ نو د هغې سُنّت دُعا دا ده: اَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ يعني الله عَزَّوَجَلَّ دِ تا هميشه خنديدلے لري. (صحیح الْبُخاری ج٤، ص٤٠٣، حدیث٣٢٩٤) ﴿۳۶﴾ د طعام خوړلو نِيَّتونه او ﴿۳۷﴾ سُنَّتونه به ورته ښَايم ﴿۳۸﴾ که موقع مې اوموندله نو د طعام شروع کولو او ﴿۳۹﴾ او د طعام نه پس والا دُعاګاني به ورته وايم ﴿۴۰﴾ د حِرص نه به ځان ساتم او د خوراك ښه حِصّه مَثَلًا پوټے وغيره به د نورو د پاره اِيثار کووم. (د مدينے د تاجدار صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك فرمان دے: څوك چې هُغه څيز چې هغې ته پخپله د هغه حاجت وي، بل ته ورکړي، الله عَزَّوَجَلَّ هغه اوبخښي.") (اتحاف السادة المتقين ج٩ ص٧٧٩) ﴿۴۱﴾ هغوئي ته به د خِلال ډکې او ﴿۴۲﴾ په درې ګوتو باندې د خوراك د مَشق [يعني طريقه ښودلو] د پاره د ربړ تِيلئ وړاندې کووم ﴿۴۳﴾ که کيدے شو نو د طعام په هره نوَړئ به په دې نِيَّت په اوچت آواز يَاوَاجِدُ وايم چې نورو ته هم ور ياد شي.

## د طعام اودس مُحتاجي لري کوي

د **حضرتِ** سيِّدُنا عبدُ الله بِن عبّاس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې د دوارو جهانو د سردار، د مدينے د تاجدار صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د رَحمت نه ډك فرمان دے: "د طعام نه مخكښې او وروستو **اودس** كول مُحتاجي لرې كوي او دا د مُرسَلِين (عَلَیهِمُ السَّلام) د سُنّتو نه دي. (اَلْمُعْجَمُ الْأَوسط ج٥ ص٢٣١ حديث ٧١٦٦)

## د طعام اودس په كور كښې خير زياتوي

د **حضرتِ** سيِّدُنا اَنَس رضی اللہ عنہ نه رِوايت دے چې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ **محبوب** صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا خوښوي چې **اللّٰه تَعَالٰی** د هغه په كور كښې خير زيات كړي نو چې كله طعام حاضِر كړے شي، اودس دِ اوكړي او چې كله اوچت كړے شي هغه وخت دِ هم اودس اوكړي." (اِبنِ ماجه شريف ج٤ ص٩ حديث ٣٢٦٠)

## د طعام د اودس نيكۍ

د **اُمُّ المُؤمِنِين** حضرتِ سيِّدَتُنَا عائِشه صِدّيقه رضی اللہ عنہا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اِرشاد اوفرمائيلو: "د طعام نه مخكښې **اودس** كول **يوه نيكي** او د طعام نه پس [اودس] كول **دوه نيكۍ** دي." (جَامِعْ صغير ص٥٧٤ حديث ٩٦٨٢)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د طعام نه مخكښې او وروستو لاس وغيره وِينځلو كښې سستي كول نه دي پكار. قَسَم په خُدائے عَزَّوَجَلَّ! د "يوے نيكۍ" اصل حقيقت به د قيامت په ورځ معلوميږي چې كله به د چا سره صرف يوه نيكي كمه وي او هغه به د خپلو عزيزانو نه صرف د يوے نيكۍ سوال كوي خو هيڅ څوك به هم وركولو ته تيار نه وي.

## د شيطان نه حِفاظت

د سركارِ نامدار، مَدَني تاجدار صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د بَرَكت نه ډك فرمان دے: د طعام نه

مخکښې او وروستو اودس کول (يعني لاسونه او خُله وِينځل) په رِزق کښې فراخي راولي او شيطان لرې کوي.

## د بيمارو نه د حِفاظت نُسخې

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د طعام د اوداسه نه د لـمانځه والا اودس مُراد نه دے بلکه په دې کښې دواړه لاسونه د ګِيټو [يعني د مړوندونو د جوړه] پورې او د خُلې بَهَرنۍ حِصّه او دننه خُله وِينځل دي. مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الأُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: په تورات شريف کښې دوه ځله د لاسونو او خُلې وِينځلو حُکم وو، د طعام نه مخکښې او د طعام نه پس، خو يهوديانو صرف وروستو وِينځل ليکلي پرينښودل او د مخکښې وِينځلو ذِکر ئې وران کړو. د طعام نه مخکښې وروستو د لاس وِينځلو ترغِيب ځکه دے چې عام طور د کار روزګار په وجه لاسونه خِيرن شي، غاښونه خِيرن شي، او په خوراك کولو لاس او خُله غوړ شي لِهٰذا!دواړهځلدِ صفائي اوکړے شي.د طعامخوړلو نه پسدخُلې وِينځلو والا به اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ! د غاښونو د خطرناك مرض پائِريا (PHYORRHEA) نه محفوظه اوسي، په اوداسه کښې د مِسواك عادت لرونکے د غاښونو او د معدے د مَرَضونو نه بچ اوسي. **طعام خوړلو نه فوراً پس د تشو بَولو کولو عادت جوړ کړئ په داسې کولو د پښتوَرګو [يعني ګُردو] او مثانے د مَرَضونو نه حِفاظت کيږي.ډير مُجَرَّب** (يعني ازمائيلے شوے عمل) دے.“ (مِرْاٰۃ شرح مشکوٰۃ ج٦ ص٣٢)

## د ډرائيور عجيبه مرګ

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! يقيناً په سُنَّتو باندې عمل کول عظيم کار دے، ځنکه چې په سُنَّتو باندې عمل کولو کښې ثواب دے دغسې د دې دُنياوي فائِدے هُم وي. طعام نه

مخکښې دواړه لاسونه د ګیټو پورې وِینځل سُنَّت دي. د خُلې مخکښنۍ حِصّه او دننه خُله هم وِینځل پکار دي. ولې چې په لاسونو مُختلِف کارونه کیږي او دا د مُختلِفو څیزونو سره لګي رالګي، ځکه ورپورې خِیرے او قِسم قِسم جراثِیم نښلي. د طعام نه مخکښې وِینځلو سره د لاسونو صفائي کیږي او د دې سُنَّت په بَرَکت مونږ د ډیرو بیمارو نه هم بچ کیږو. د طعام نه مخکښې وِینځلي لاسونه اوچول نه دي پکار ځکه چې د تولِیه وغیره جراثِیم په لاسونو پورې نښتے شي. وائي چې یو **ټرک ډرائیور** په هوټل کښې طعام اوخوړو او د خوراك نه فوراً پس په ارغښتو مړ شو. نورو ډیرو خلقو هم په هغه هوټل کښې طعام خوړلے وو خو په بل چا هیڅ هم اُو نه شو. تحقیقات شروع شو نو چا اووئیل چې طعام خوړلو نه مخکښې دې ډرائیور د هوټل خوا ته د ټرك ټائِرونه چیك کړي وو او بیا ئې د لاسو وِینځلو نه بغیر طعام اوخوړلو، چې د ټرك ټائِرونه چیك کړے شو نو معلومه شوه چې ټائِر چرې په یو زهرژن مار د پاسه ختلے وو او د هغه زهر په ټائِر باندې خواره شوي وو او بیا هغه د ډرائیور په لاسو پورې نښتي وو، **د لاسونو نه وِینځلو په وجه خوراك سره هغه زهر د ډرائیور خیټې ته لاړل او د هغه د سمدستي مرګ سبب جوړ شو.**

الله کی رَحمت سے سُنّت میں شَرافت ہے
سرکار کی سنّت میں ہم سب کی حفاظت ہے

د الله رَحمت دے په سنَّت کښې شرافت دے
د حُضور په سُنّت کښې زمونږ د ټولو حِفاظت دے

## په بازار کښې خوراك کول

د **حضرتِ** سیِّدُنا اَبُو اُمامه رضی اللہ عنہ نه رِوایت دے چې **نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم** صلّی اللہ علیہ واٰلہ

وسلّم اِرشاد فرمائيلے دے: ”په بازار کښې خوراك کول بد دي.“ (جَامع صغير ص١٨٤ حديث٣٠٨٣)

صَدرُ الشَّرِيعه، حضرتِ علّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رحمۃُ اللہِ علیه فرمائي: ”په لاره کښې او په بازار کښې خوراك كول مكروه دي.“ (بهارِ شريعت ج٣ حصّه١٦ ص٣٧٨)

## د بازار ډوډۍ

**حضرتِ** سيِّدُنا اِمام بُرهانُ الدِّين زرنوجي رحمۃُ اللہِ علیه فرمائي: امامِ جليل **حضرتِ** سيِّدُنا محمّد بِن فَضَل رحمۃُ اللہِ علیه د عِلم حاصلولو په دوران كښې كله هم د بازار طعام نه وو خوړلے د هغوئي والِد صاحِب به هره جُمُعه د خپل كلي نه د هغوئي د پاره طعام راوړلو. يو ځل چې كله هغوئي طعام راوړلو او د دوئي په كوټه كښې ئې **د بازار ډوډۍ** پرته اوليدله نو سخت خفه شو او خپل ځوئ سره ئې د سره خبرې اُونكړې. ځوئ ورته خپل عُذر وړاندې كړو چې محترمه بابا جانه! دا ډوډۍ ما د بازار نه نه ده راوړې، زما ملګرې زما د رضامندۍ نه بغير راوړې وه. والِد صاحِب اورېدلو او ورته ئې اووئيل چې كه په تا كښې تقوىٰ وے نو ستا دوست به كله هم دا جُرأت نه وو كړے.

(تَعلِيمُ الْمُتَعَلِّمِ طَرِيْقُ التَّعَلُّم ص٦٧. بابُ المدينه كراچي)

## بازاري طعام بے بَرَكته وي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده چې زمونږه بُزُرګانِ دِين به د تقوىٰ څومره خيال ساتلو او د خپل اولاد څومره زبرست تربِيَّت به ئې كولو چې هغوئي به ئې د هوټل او بازاري طعام خوړلو نه منع كول. حضرت اِمام زرنوجي رحمۃُ اللہِ علیه فرمائي: ”كه كيدے

شي نو د بے فائِده او بازاري طعام خوړلو نه پرهيز كول پكار دي ځكه چې بازاري طعام اِنسان خيانت او ګندګئ ته نِزدے كوي او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ذِكر نه ئې لرې كوي، د دې وجه دا ده چې د بازار په طعامونو باندې د غريبانو او فقيرانو سترګې هم لګي او چې كله هغوئي د خپلې غريبئ او تنګدستئ په وجه دا خوراكونه نه شي اخستے نو د هغوئي زړونه خفه شي او دغسې د هغه طعام نه بَرَكت اوچت شي.“ (ايضاً ص۸۸)

## په هوټل كښې خوراك كول څنګه دي؟

په **بازارونو** كښې په ريړو وغيره باندې موجودو د قِسماقِسم ترُوشو خوراكونو خوندونه اغستو والا دِ د دې نه د عِبرت درس واخلي. چې په بازار كښې صرف خوراك كول بد دي نو بيا د فِلمي سندرو په آوازونو كښې په هوټلو كښې وخت بے وخته خوراكونه كول، چائے څښل او يخې بوتلې وغيره څښل به څومره د عيب خبره وي! كه سندرې نه غرېږي نو هم د هوټلو ماحول اكثر د غفلتونو نه ډك وي، په دې كښې ناسته د شريفانو او باشرع خلقو د شان سره نه ښائي. لِهٰذا كه ضرورت وي او څوك ئې واخلي نو هم په څه محفوظه مقام كښې خوړلو كښې خير دے. خو چې څوك مجبوره وي نو هغه معذوره وي [يعني د هغه عُذر وي]. خو كه په هوټل كښې د فِلمونو، ډرامو يا سندرو او سازونو سلسله وي نو بيا هلته تلل نه دي پكار ځكه چې قصداً د موسيقئ اواز اوريدل ګناه ده. چنانچه

## د موسيقئ د آواز نه بچ كيدل واجِب دى

**حضرتِ** سيِّدُنا علّامه شامي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ”ګډا كول، په چا پورې ټوقې كول، لاسونه پړقول، سِتار، ډول، ډُپرئ [يعني ډُكړئ]، رباب، ترُړئ، شپيلئ، [وغيره] وهل او

ګونګري شنړول مکروهِ تَحرِيمي (يعني حرامو ته نِزدے) دي ځکه چې دا ټولې د کُفارو نښې دي. دغسې د شپيلۍ او (د موسيقۍ) د نورو سازونو اوريدل هُم حرام دي، که ناڅاپه ئې واوريدل نو معذوره دے او پرې واجِب دي چې د نه اوريدلو پوره کوشش اوکړي." (رَدُّالمحتار ج٩ ص٥٦٦)

## په غوږونو کښې ګوتې ايښودل

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** خوش نصيبه دي هغه مسلمانان څوك چې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ کلام، د حُضُورِ پاك صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه او د سُنّتو ډك بيانونه اوري او که چرې د فِلمي [او يا د غير فِلمي] سندرو او د موسيقۍ آواز راشي نو د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ويرې په وجه د هغې د نه اوريدلو پوره کوشش کوي او په غوږونو کښې ګوتې کيږدي او د هغه ځائے نه فوراً لرې لاړ شي. چنانچه **حضرتِ** سيِّدُنا نافِع رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې زه په وړوکوالي کښې د **حضرتِ** سيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا سره چرته روان ووم چې په لاره کښې د مِزمار (يعني باجے) غړيدلو آواز راغے. اِبنِ عُمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا **په خپلو غوږونو کښې ګوتې کيښودې** او د لارې نه بل طرف ته جُدا شو او چې لرې لاړو نو تپوس ئې اوکړو: نافِع! آواز راځي؟ ما عرض اوکړو چې اوس نه راځي. نو بيا ئې د غوږونو نه ګوتې لرې کړې او ارشاد ئې اوفرمائيلو: يو ځل زه مَدَني سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره چرته روان ووم، حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم دغسې کړي وو څنګه چې ما اوکړل." (اَبُوداوٗد،ج٤،ص٣٠٧،الحديث٤٩٢٤)

## که د موسيقۍ آواز راځي نو لرې دِ شي

**معلومه** شوه چې څنګه د موسيقۍ آواز راشي نو فوراً په غوږونو کښې ګوتې ايښودل

او د هغه ځائے نه لرې کيدل پکار دي ځکه چې که په غوړونو کښې ګوتې خو کيږدي خو هم هلته ولاړ يا ناست وي يا لږ غوندې جُدا شي نو د موسيقئ د آواز نه نه شي بچ کيدلے. که څوك په غوړونو کښې ګوتې ګړدي او که نه خو په هره طريقه باندې د موسيقئ د آواز نه د بچ کيدلو کوشش کول واجِب دي. آه! آه! آه! نن صبا خو په سيّارو، جهازونو، کورونو، دُکانونو، کوڅو او بازارونو کښې، بلکه چې کوم طرف ته لاړ شي نو د سندرو او سازونو آوازونه راځي او که چرې يو عاشِقِ رسول په غوړونو کښې ګوتې کيږدي نو په هغه پورې خنداګاني کيږي.

وہ دور آیا کہ دیوانۂ نبی کیلئے
ہر ایک ہاتھ میں پتّھر دکھائی دیتا ہے

هغه وخت راغے چې په عاشقِ رسول پسے
هر يو راغستے دے په لاس کښې کاڼړے

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره د تړون په وجه ژوند په داسې عجيبه طريقه بدليږي چې ډير ځله مو د اسلامي وروڼړو نه اوريدلي دي چې کاش! مونږ ته ډير مخکښې د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** نصيب شوے وے، د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول د بَرَکتونو نه ډك يو مَدَني سپرلے واورئ، چنانچه

## د ''کور درس'' د بَرَکت حِکايت

د **آکوله** (مهاراشټر،اَلهِند) يو اسلامي ورور څه داسې بيان اوکړو چې د بدمذهبو سره د تَعلُّقاتو په وجه زمونږه کورنئ بد عملئ سره سره د بدعقيدګئ طرف ته هم روانه وه، يوه ورځ مونږ د کور ټول کسان ټي وي کتلو کښې مشغول وو چې زما د وولّسو [17] کالو

کشر ورور چې هغه د **دعوتِ اسلامي** د سُنّتو ډکې اجتِماع ته تلل راتلل شروع کړي وو، هغه راغے تې وي ته ئې شا کړه او شا کړے راروان کوتے ته راننوتو او خپل څه څيز ئې د الماریٔ نه راواغستو او په هم هغه طريقه بيرته اووتلو، د هغه دا عجيبه کار چې ما اوليدو نو ما ورته په غُصّه کښې په زوره اووئيل چې "ولې، ستا دِماغ خراب شوي دي چې دا د ماشومانو په شان کار دِ اوکړو." هغه هيڅ څه جواب رانکړو او بلې کوتے ته لاړو! زمونږ مور صاحِبې اووئيل چې ده ما ته وئيلي وو چې بيا به کله تِې وي طرف ته ګورمه هم نه! ما د ډيرې غُصّے نه د کشر ورور سره خبرې اترې کول پريښودل. هغه به د کور ټول کسان راجمع کړل او د **فيضانِ سُنّت** درس به ئې ورته کولو. زه به په درس کښې نه کښيناستم، يوه ورځ ورته زه هسې لږ نزدے کښيناستم چې اوګورم دا په درس کښې څه وائي، چې مې واوريدو نو ډير ښه راباندې اولګيدو،نو بيا ماهره ورځ په "**کور درس**" کښې شرکت کول شروع کړل، په قلاره قلاره زما د زړه نه زنګ لرې کيدو، تر دې چې د دعوتِ اسلامي "**هفته واره د سُنّتو ډکه اجتِماع**" کښې مې شرکت کول شروع کړل. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ عقل مې ځائے له راغے، د بدمذهبو د صُحبت نه مې ځان خلاص کړو او ګيره مې پريښودله او د کوم بدعقيده مُولا ګمراه کوونکې کيستې چې ما به په ډير شوق اوريدلې، اوس د هغې په ځائے د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** نه جاري شوي د سُنّتو ډکو بيانونو کيستې اورم. زمونږ د کور په څلورو کوټو کښې تې ويان لګيدلي وو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! په خپل مينځ کښې مو مشوره اوکړه او د کور نه مو څلور واړه تې ويان ويستل.

بُری صحبتوں سے کَنارہ کشی کر اور اچھوں کے پاس آکے پاِمَدنی ماحول
تمہیں لطف آجائیگا زندگی کا قریب آکے دیکھو ذرا مَدَنی ماحول

اوکړه ډېره له بدو صُحبتونو
راشه د ښو خوا ته، ښه دے دا مَدَني ماحول
ته به پوهه شي د ژوند په خوند
راشه اُووِينه له نزدے دا مَدَني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اِيمان د حفاظت ذريعه

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! تاسو اوليده! په "**کور درس**" کښې د کور د کسانو د اِيمان د حِفاظت او د اعمالو د اِصلاح اسباب موجود دي. هم دغسې د اسلامي وروڼړو او د اسلامي خويندو د اخلاقي تربِيَّت د پاره د خپلو اعمالو د جائزه اخستلو په ذريعه هره ورځ د **نيک اعمالو** د رِسالے د ډکولو هم ترکيب شته دے. او په دې رِساله کښې د نمبر 23 نيک عمل مطابق هر يو ته د **فيضانِ سُنّت** نه **د کور درس** ورکولو يا اوريدلو ترغيب هم موجود دے. ستاسو د ټولو په خِدمت کښې د کور درس جاري کولو **مَدَني عرض** دے.

عمل کا ہو جذبہ عطا یاالٰہی گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی
سعادت ملے درسِ فیضانِ سنّت کی روزانہ دو مرتبہ یاالٰہی

د عمل راکړي جذبه يا اِلٰهي کناهونو نه بچ کړه ما يا اِلٰهي
راکړي توفيق د درسِ فيضانِ سُنَّت په ورځ کښې دوه ځله يا اِلٰهي

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د قبر رنړا

د **درس و بيان** د ثواب به څه وائي! حضرتِ علاّمه جلالُ الدِّين سُيوطي الشّافعي رحمۃ اللہ علیہ په ''شرحُ الصُّدور'' کښې نقل کوي: اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی **حضرتِ** سيّدُنا مُوسیٰ كليمُ الله علیه السّلام ته وحي اوفرمائيله: ''**د خير** [يعني د نيکئ] **خبرې ښّچپله هم زده کړه او نورو ته ئې هم زده کړه، زه به د نيکئ زده کوونکو او نورو ته د ښودونکو قبرونه روښانه کړم چې هغوئي ته د هيڅ قِسمه ويره نه وي.**'' (حِليةُ الاولياء ج٦ ص٥ حديث ٧٦٢٢)

## قبرونه به ئې ځليږي

د دې رِوايت نه د نيکئ د خبرې د زده کولو او نورو ته د ښودلو اجر و ثواب معلوم شو، د سُنّتو ډك بيان كوونكو يا د درس وركوونكو او اوريدونكو خو به مزے شي.اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغوئي قبرونه به دننه ځليږي او هغوئي ته به د هيڅ قِسم ويره نه محسوس كيږي. د **اِنفِرادي كوشش** په ذريعه د نيکئ د دعوت وركوونكو، په **مَدَني قافله** كښې د سفر كوونكو او د خپلو اعمالو د جائزه اخستلو په ذريعه د **نيک اعمالو** رساله كښې هره ورځ د خانو ډكولو ترغيب وركوونكو او د سُنّتو ډكه اجتماع كښې د شِركت دعوت وركوونكو او د مُبَلِّغينو د نيکئ د دعوت د اوريدونكو قبرونه به هم اِنْ شَآءَاللّٰه د حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور په خاطر نُورٌ عَلٰى نُور وي.

قبر میں لہرائیں گے تا حشر چشمے نُور کے
جلوہ فرما ہو گی جب طَلعت رسولُ اللّٰہ کی

تر قيامته به په قبر كښې رڼړا وي
ښکلے مخ چې د آقا پکښې ښكاره شي

## د كور د كسانو اصلاح ضروري ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د خپل ځان او د خپل کور د کسانو اصلاح په مونږه لازمه ده. چنانچه په اته ويشتمه سيپاره کښې د سُوْرَةُ التَّحْرِيم په شپږم آيت کښې اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی اِرشاد فرمائي:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّ قُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: اے اِيمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د [هُغه] اور نه بچ کړئ چې د هغې خشاك انسانان او کانړي دي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د ”کور درس“ په ذريعه به په دې آيت هم عمل کول آسان شي او په دې حقله په کور کښې د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه نه جاري شوې د سُنّتو ډکې رِسالے لوستل او د سُنّتو ډکو بيانونو کيستې [او ويډيو بيانونه] چلوَل هم فائِده مند دي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د سُنّتو ډکو رِسالو او کيستو په ذريعه هم د ډيرو خلقو د اِصلاح واقعات شته دے، چنانچه

## د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه د رِسالے مَدَني سپرلے

د ضلع بهاولپور (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان دے چې زه په اسکول کښې د غلط ماحول په وجه د ليونتوب د حده پورې د فِلمونو شوقي شوے ووم. صِرف د فلمونو کتلو د پاره به نورو ښارونو مَثَلاً لاهور، اوکاړه وغيره تر دې چې کراچۍ ته تلم. د فِلمونو د بے حيا منظرونو د سپيره والي په وجه مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ د کالِجه پورې په بے حيا جينکو پسې وروستو وروستو تلل او هره ورځ کِيره خَرَئيل زما عادت وو. د سپيره والي د پاسه سپيره والے دا چې زما په زړه کښې په تهيټر [يعني استيج ډرامو] کښې او د مرګ په کوهي [هغه موټر سائيکل چې پکښې د تماشے د پاره تاوهي په هغې] کښې د کار

کولو شوق پیدا شو. د کور کسان مې ډېر خفه وو، يوه ورځ مې والِد صاحِب د دعوتِ اسلامي ذِمّه دارانو سره خبره اوکړه او زه ئې د علاقے د عاشقانِ رسول سره په مَدَني قافله کښې په سفر اوليږلم، په آخِرئ ورځ راته امِيرِ قافله (د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوي) رِساله تور لَړمان د لوستلو د پاره راکړه ما چې اولوستله نو بدن مې په لړزان شو، سمدستي مې د ګناهونو نه توبه اوکړه او د يو موتي ګِيرې پريښودلو نيَّت مې اوکړو، چې بيرته راغلم نو بيا مې د دعوتِ اسلامي په هفته واره د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې شِرکت اوکړو او د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه نه جاري شوے د بيان کيسټ ''ڈھل جائے گی یہ جوانی'' [يعني ''تيره به شي دا ځواني''] مې واخستو، چې کله کور ته راغلم او بيان مې واوريدو نو د زړه دُنيا مې بدله شوه او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! پابندئ سره مې لـمونځونه کول شروع کړل او د دعوتِ اسلامي مَدَني کارونه مې شروع کړل.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د کور درس مدني ګلونه

- ټول اسلامي ورونړه د خپل کور په خلقو باندې انفرادي کوشش اوکړئ او کور درس کښې شرکت کولو ته ئې تيار کړئ، خو د دې د پاره ضد مه کوئ ځکه چې بےځايه ضد او غصه کار خرابوي.
- د درس سلسله شروع کولو نه مخکښې، اول په هغه کس کوشش اوکړئ څوک چې ستاسو سره څه نه څه همدردي لري، که هغه شامل شي نو په قلاره قلاره به نور هم شامل شي دغسې به تعداد زياتيږي خو دا معامله د صبر کولو ده، په دې کښې به صبر نه پريږدئ.

**دُعائے عطار**: یا اللّٰه پاکه! ما ته او ښوك چې په كور كښې درس وركوي هغه ټولو ته د خپل **محبوب** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ګاونډ كښې په **جَنَّتُ الْفِرْدَوس** كښې ځائے نصيب كړې، يا اللّٰه پاكه! ښوك ښوک چې تر قيامته پورې دعوت اسلامي سره تړلي اوسي او د **كور درس** تركيب كوي د هغوئي په حق كښې هُم زما دا دُعا قبوله كړې. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ہے تجھ سے دعا ربِّ اکبر! مقبول ہو "فیضانِ سنّت"
مسجِد مسجِد گھر گھر پڑھ کر، اسلامی بھائی سناتا رہے
دا مې دُعا ده يا رَبِّ اكبر! مقبول كړې "فيضانِ سُنَّت"
چې درس ئې وركوي اسلامي وروڼه كور په كور، جُمات په جُمات

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين اما بعد فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم

## نیك او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے کښې کېدونکې د دعوتِ إسلامي د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیَّتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنَّتو د تربیَّت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدینه" په ذریعه د مَدَني إنعاماتو رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي." إن شآء الله عزوجل. د خپلې إصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. إن شآء الله عزوجل






فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com